واحد فقیري ۲۰۱۶/۰۲/۲۴

# له کندهاره و کابل ته د مغزي فرار تاریخي پروسه
## (۱۷۷۳-۱۹۹۰)
## لومړی برخه

مقدمه:
نن سبا، د مغزي فرار مسله نه یوازې یو بشري او بین المللي پرابلم دی، بلکي اقتصادي او انکشافي مسله هم ګرځېدلي ده. په ۲۱ مه پېړۍ کې، د بشري پانګو د فرار پروسه نه یوازې له غریبو ملکونو څخه و غربي او پر مختللو هیوادونو ته په زیاتېدونکي توګه چټکه کېږي، بلکي دننه په غربي دنیا او نورو پرمختللو صنعتي ملکونه کي همدا مشکل په مختلفو شکلونو باندي موجود دی. د افغانستان په شان په یوه وروسته پاتي او زراعتي ملک کي، مغزي فرار عموما له کلیو څخه و سترو ښارونو ته کېږي او یا مدام له نورو ښارونو څخه و پایتخت ته کېږي.
البته، د یوې ټولني له پاره د انساني او معنوي پانګي دا فرار ځکه زیانمن دی چي تحصیل کرده بشري ثروت د یوې جامعي تر ټولو مهمه پانګه ده، په تېره بیا نن ورځ چي هر څه په علم او تکنالوژي پوري تړلي دي. د یوې ټولني تحصیل کرده خلګ د هغي جامعي د رشد او پرمختګ لوکوموتیف وي. هغوی په صنعتي او پر مختللو ټولنو کي د اختراع او کشف محرکه قوه وي. د اوسني عصر د مدنیت اساس پر عاقل، نقاد، او آګاه انسان باندي اېښودل سوی دی. په نننیو عصري ټولنو کي، متخصص او مسلکي بشري ثروت د یوې جامعي ثبات، پرمختګ، او ډاینمیزم تضمینوي.
په یوه کلام کي، د یوې ټولني د دومداره امن، خوشحالي او پرمختګ یوازېنی ډاډمن ضامن یوه تحصیل کرده، آباده او په سیاسي چارو کي دخیله بشري پانګه ده. د همدې انساني پانګي زیاتره استازي د یوې جامعي د مېنځنی طبقي وتلي قشرونه وي. اوس نو، واضح خبره ده چي دوامداره مغزي فرار د ټولني فکري او اقتصادي زیربنا خرابوي. له یوې ټولني څخه د فکري نخبه ګانو مدام فرار هره جامعه بالاخره له فکري رکود، زوال او سقوط سره مخامخ کوي. لنډه دا چي هیڅ جامعه له دوامداره مغزي فرار سره مقابله نه سي کولای.
د نړیوالتوب په دې روان پېر کې، د بشري او معنوي منابعو د فرار پرابلم له مختلفو زاویو څخه مطالعه او څېړل سوی دی. اکاډمیکو مطالعاتو او تحقیقاتو دا خبره بار بار تایید کړې ده چي د مغزي فرار یو عمده عامل اقتصادي دی. په بل عبارت، مغزي فرار د علمي او مسلکي کدرونو هغه انساني تلاښ دی چي د بهتره ژوند د پیدا کولو په غرض ئې کوي. ځیني وخت مغزي فرار سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او مذهبي عوامل هم لري. دغه راز، بې ثباتي او نا امني هم عمده عوامل بلل کېږي. مګر ځیني خلګ بیا له درېیمي نړۍ څخه و غرب ته د انساني پانګي فرار د غرب یوه پلان سوې دسیسه ګڼي. هغوی وایي چي غرب له درېیمي نړۍ څخه ځوان مسلکي او علمي کدرونه، متخصصین او تحصیل کرده خلګ په ارزانه توګه خپلو ملکونو ته واردوي.
همدارنګه، له کندهاره و کابل ته د څه باندي ۲۰۰ کلن مغزي فرار هم مختلف عوامل لرل چي لاندي به په لنډه توګه شرح سي.
متن:
دلته به له (۱۷۷۳ – ۱۹۹۰) پوري له کندهاره و کابل ته د انساني منابعو د انتقال پروسه څه تشریح او بیا تحلیل او تجزیه سي، خو په اول سر کي باید دا ووایم چي له کندهاره و کابل ته دغه څه باندي ۲۰۰ کلن دوامداره مغزي فرار اکثرا اقتصادي عامل درلورد. مانا همدا د انساني منابعو فرار د کندهاري ځوانانو له پاره د کار پیدا کولو، د شخصي ارتقا، فرهنګي برېښ، شهرت او د شخصي تبارز مسله هم وه، ځکه د کندهار په مقایسه په کابل کي د فردي پرمختګ له پاره فرصتونه زیات ول. مګر په ځینو لسیزو کي (۱۹۳۰-۱۹۵۰) همدا مغزي فرار د حکومت د څه فشار نتیجه وه. ځکه په همدې لسیزو کي د کابل ډارن سلطنت په یوه ځای کي د زیاتو منورینو تجمع او تمرکز نه غوښت او تل ئې د ځپلو او تیت و پرک کولو کوښښ کاوه. د همدې هدف د حاصلولو په منظور حکومت په لوی لاس د کندهار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولۍ

فرهنګي او مدني ټولني او حتى تاريخي ابدات ړنګول او کله بيا (۱۹۸۰-۱۹۹۰) امنيتي او جنګي مسايل ول چې خلګ ئې دېته مجبورول چې له کندهاره و کابل او يا نورو ملکونو ته کډه وکړي.
البته، واضح خبره ده چې له کندهاره و کابل ته دا څه باندې ۲۰۰ کلن مغزي فرار بالاخره د ۱۹۷۰ په آخرو کلونو کې د کندهار د فکري او مدني ټولنو ملا غبرګه ور ماته کړه. د ۱۹۷۰ په پای کې، د کندهار ښاري مدنيت له ښکاره رکود سره مخامخ و او دا فکري او اقتصادي رکود د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسيزو کې د پوره زوال او سقوط تر سرحده پورې ورسېدى. حقيقت دا دى چې د ۱۹۷۰ په آخرو کلونو کې، مانا د داود خان د جمهوريت په دوران کې، له کندهاره و کابل ته د انساني منابعو همدې دوامداره فرار د کندهار سياسي، فرهنګي او مدني جوړښت له بېخه متزلزل او ضعيف کړي و. په همدې کلونو کې، د کندهار فکري رکود او انحطاط د ښار مدنيت او فرهنګي ميراث د اوينو په شان په خپل بطن کې خوړى. که څه هم په کابل کې مېشته کندهاري منورينو او علمي کدرونو د خپل پلرني ښار سره د پاخه سړک له برکته مدام تګ راتګ لاره، خو د ۱۹۷۰ په آخرو کلونو کې د کندهار د فرهنګي او اجتماعي رکود او زوال نښې نښانې له ورايه محسوسې وې.
په بل عبارت، همدې ۲۰۰ کلن مغزي فرار د کندهار ښار له داسې بنيادي چلنجونو سره مخاخ کړ چې د ۱۹۷۹ د شوروي اشغال او ور پسې جهادي دورې همدا چلنجونه نور هم پراخ او بحراني کړل. ځکه تر دې وخت پورې نه په کندهار کې پوهنتون و چې خپل ځوان استعدادونه له فرار څخه را وګرځوي، نه کندهار نور داسې د عالي علومو موسسات لرل چې خپل علمي کدرونو ته د کار او تحقيق موقع دننه په ښار کې برابره کاندي، نه هم په کندهار کې راډيو، تلويزون، تياتر او آزاد مطبوعات ول چې خپل مسلکي، هنري او فرهنګي نخبه ګانو ته په ښار کې د کار او خدمت فرصت برابر کړي او نه هم نور داسې انکشافي پروګرامونه ول چې د کندهار تحصيل کردګان دې په ښار کې و استوګن کېدو ته تشويق کړي، بلکي په مقابل کې د تېښتي له پاره هر موجه محرک چمتو و او هره قانع کونکې پلمه موجوده وه.
د افغانستان په معاصر تاريخ کې ښايي بل هيڅ ښار په دې اندازه له مغزي فراره نه وي زيانمن سوي، لکه کندهار چې له ۱۷۷۳ څخه د ۱۹۹۰ تر آخرو کلونو پورې تاواني سو. د دې اوږدې پروسې د منفي اثراتو تلافي ښايي ډېرې زمانې ونيسي.
تاريخ:
په معاصر تاريخ کې، له کندهاره و کابل ته د انساني او بشري پانګي لومړى ستر مغزي فرار په ۱۷۷۳ کې شروع سو. په دې کال کې، تيمورشاه له کندهاره و کابل ته د افغانستان پايتخت انتقال کړ. له دې عظيم سياسي انتقال سره جوخت، له کندهاره زيات شمېر نخبه ګان، سياسي او نظامي مشران، د حاکمي ارسټاکراسي مقتدر سياسي کسان او کورنۍ او دغه راز دوى ته مربوط ښاري او مدني قشرونه هم کابل ته وکوچېدل. کابل ته د پلازمېنې له انتقال سره سم، د دولت عالي رتبه مامورين مجبوره سول چې کابل ته ورو ورو کډه وکړي. هلته کورونه، کوڅې، محلې او محلونه جوړ کړي.
د احمد شاه بابا د ستر جنرال سردار جهان خان پوپلزى په نامه په کابل کې يوه کوڅه ونومول سوه او اولادونه ئې په کابل کې ميشته او ځايي سول. دغه راز، د شاه ولي خان باميزي کورني او زامن هم و کابل ته وکوچېدل. سردار پاينده محمد خان بارګزى او کورنۍ ئې هم تدريجا و نوي پلازمېني ته کډه سول. همدا رنګه، د اڅکزو کوڅه، د مراد خان پوپلزي په نامه کوڅه او په کابل کې تر ۱۸۲۰ پورې داسې نورې محلې او کوڅې هم په کندهاري مشرانو او اقوامو پسې ونومول سوې (حبيبې، پېښليک، مخ – ۱۶۶). له دې ستر سياسي- اجتماعي انتقال سره سم، په سلهاوو مخور، تجار او نور مسلکي خلګ له کندهاره و کابل ته وکوچېدل.
که څه هم د ۱۷۷۰ کلونو په جريان کې له کندهاره و کابل ته دغه هر اړخيز مغزي او معنوي فرار د کندهار د ښاري طبقې او ښاري مدنيت له پاره ګران تمام سو، خو بيا هم دا انتقال څه تدريجي او سوکه غوندي و. ځکه هله د ټرانسپورټ مشکل و. د تګ راتګ ښه وسيله اس او يا اوښ و. نو بنا، اکثرو کندهاري مشرانو چې کابل ته کډه سوي ول په کندهار کې نژدې دوستان، ياران او ملکيتونه لرل. همدې عاطفي او مادي کششونو هغوى له کندهاره سره په مختلفو انواعو د ډېرو زمانو له پاره وصل او نژدې ساتلي ول. همدا سبب و چې د کندهار له پاره دا جامع او عظيمه انساني پانګي د لاسه ورکول تر ډېره حده پورې د زغمولو سوه او حتى د کلونو په بهير کرار کرار تلافي سوه.
د سياسي بربادي، باچاګښتۍ او فکري رکود قرن( ۱۸۰۰):
د ۱۸۰۰ په بحراني لسيزو کې، د سدوزو پاچاهانو تر مينځ خپلمينځي جنګونه، پر افغانستان باندې د برتانوي امپرياليزم دوې ورانونکې حملې، له سدوزو څخه و بارګزو ته د سياسي قدرت اوړد او خونړى انتقال، د بارګزي ورونو تر منيځ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اوړده او تباه کونکي داخلي جنګونه، د انارشي اوږده کلونه او داسي نورو سياسي او اجتماعي بحرانونو او ناکراريو له کندهار څخه و کابل ته د مغزي فرار پروسه څه سوکه کړې وه. د انارشي، خارجي مداخلو او وارلاډيزم په دې پېړۍ کي، هر چا کوښښ کاوه چي پر خپل کور او مېنه باندي پاته سي.

اما د ۱۸۷۰ په لسيزه کي، کله چي د امير شيرعلي خان په دوره کي يوه نسبي کراري او امنيت برقراره سو، په تاريخ کي له کندهاره و کابل ته د ځو مهمو اشخاصو او کورنيو د تګ مسله يو وار بيا درجيږي. په دې ډله کي، د غلام محمد خان طرزي، مولوي محمد جان خان الکوزی د مولوي محمد سرور واصف پلار او د مولوي عبدالروف خان کندهاري کورنۍ شاملي دي.

خو په عمومي توګه د ۱۹ پېړۍ په بهير کي، افغانستان له يو لړ حياتي تهديدونو سره مخامخ وو او ورو ورو د دوو اروپايي امپراتوريو ـ يعني برتانيې او روسيې- په مينځ کي تقسيم او ميده کېده، ځو بالاخره د يوه بفر ستيټ په چوکاټ کي د برتانيوي امپرياليزم تر چتر لاندي او د افغان پاچاهانو په مستقيم کومک او همکاري تر ۱۹۱۹ پوري په يوې اوږدې او تباه کونکي فرهنګي او اجتماعي انزوا کي وساتل سو. له جهان او عصري انکشافاتو څخه د دې اوږده ليري والي او تجريد بد عواقب حتی نن ورځ هم احساسيږي. په نتيجه کي، افغانستان په منطقه کي تر ټولو وروسته پاتي ملک سو. د نولسمي پېړۍ په جريان کي، افغانستان په يوه جانانه رينټير (مطلق وابسته) دولت باندي بدل سو او دا لړۍ له بده مرغه تر نن ورځي پوري دوام لري. همدې تړاو او رينټير توب په افغانستان کي د يوه ملي، باثباته او ځان بسيا دولت د تاريخي جوړېدو مخه نيولې ده. همدا د رينټير دولت پرابلم د افغان سياسي بقا تر ټولو مهمه خبره ده.

د لومړۍ برخې پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ